**د فوري خپروني لپاره**
**د سپتمبر ۲۰ ــ د ۲۰۱۰ کال**
**د اړيکي شميره: کيتی ګيست- کابل**
**۰۷۹۶۰۷۴۶۰۸**
kgest@ndi.org
اندی ايم ، ا کمبيل - کابل
شميره: ۰۷۹۸۱۳۷۰۲۳
acampbell@ndi.org,
راب رونين، واشګنتن:
شميره: ۲۰۲-۷۲۸-۵۵۴۱
rrunyan@ndi.org

**ملی دموکراتيک انستيتوت د اوموندله چې د تاوتريخوالی سره سره، رايه اچکونکي په افغانستان کې دموکراتيک بهير ته ژمن دي**

کابل، افغانستان—که څه هم تاوتريخوالي د افغانستان په يو شمير زياتو سيمو کي د ټاکنو بهير زيانمن کړ ولې بيا هم په ميلونونو افغانانو په قانونی ټاکنو کي چي د سپتمبر په ۱۸ مه ترسره شوې، برخه واخيسته. د ملی دموکراتيک انستيتوت په و ينا چي نن يی خپره کړه، دا کار د افغانانو همت ښی يی چې پريکړه کوي ترڅو خپل هيواد لا نور د يوه ولسواکه راتلونکې پر خوا و درومی

انستيتوت څرګندوی چې د افغانستان د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو بهير وښوده، چي ميلونونه افغانان—نوماندان او د هغوی استازي،رايه اچونکي، کورني ټاکنيز کتونکي او ټاکنيز مامورين ژمن دی ترڅو دا څرګنده کړی چې ولسواکه حاکميت د دوی له ارادې څخه سرچينه مومی.

ولې ملي دموکراتيک انستيتوت يو شمير زياتو ستونزو ته هم اشاره وکړه له کومه چي د ۲۰۰۴ کال د لومړنيو ټاکنو له مهاله لا تر اوسه هم نه دي حل او پر خپل ځای پاتې دي. لکه د نه کارنده نوم ليکنې بهيرترسره کيدنه، د ښځو د برخه اخيستلو لپاره خنډونه، او دا چي له حکومت څخه بايد د دوو ټاکنيزو ادارو خپلواکی ثابته شی چې عبارت دی د ټاکنو له خپلواکه کميسيون او د ټاکنو د شکايتونو له کميسيون څخه.

ملي دموکراتيک انستيتوت د ولسي جرګې له ټاکنو څخه د څارنې دنده په غاړه درلوده. ۱۶۴ افغانو او نړيوالو څارونکو چي له ۱۳ هيوادونو څخه راغلی ؤ، د هيواد د ۳۴ ولايتونو څخه يې په ۳۰ ولايتونو کي خپلې اړوندي دندي سرته کړې او د امنيتی خنډونو سره سره يی د ۷۳۰ ټاکنيزو محلونو څخه يې د ټاکنو په ورځ ليدنه وکړه.

دا لمړنۍ مطبوعاتي وينا ده چي د انستيتوت لخوا خپريږي او تراوسه ډير ژر ده چي د ټاکنو بهير په ټوليزه توګه وارزؤ. زياتو نورکارونو ته اړتيا ده چې بايد ترسره شي، لکه د درغليو بربنډول کومې چي د ۲۰۰۹ کال ټاکنې يی هم په کلکه توګه زيانمنې کړې وې.

په دې وينا کې راغلی (له کومه چي د سيالو نوماندانو تر منځ توپير به کم وي نو لږې رايې هم کولای شی چې د ځينو نوماندانو لپاره د ټاکنو پايلې اغيزمنې کړي. نو ځکه دا به ډيره اړينه وي چې کورني او نړيوال څارونکي د نژدي څخه څارنه ترسره کړي . د پايلو جدول او شکايتونو ته د رسيدګی بهير په کلکه توګه وڅاري.)

احتمالي بينظمي په ناامنو سيمو کې د ډيرو رايه اچونکو پر برخه اخيستنې ، په ښځينه محلونو کې په لوړه کچه ګډون، په يو ځانګړي ټاکنيز محل کې د مشکوکو رايو کارونه او د يوه ټاکنيز مرکز په بيلابيلو محلونو کې د نااندولو رايو پاڼو پر ويشلو باندې شامليږي. دا چې د ټاکنو خپلواک کميسيون د هرډول بينظميو په وړاندې څه ډول غبرګون ونښيي دا به د ټاکنو پر اعتبار باندې پوره اغيزه ولري.

ملي دموکراتيک انستيتوت د ټاکنو د خپلواک کميسيون د يو لړ تياريو په پام کې لرلو سره چې يې سږ کال د درغليو د مخنيوی په خاطر يې تر لاس لاندې نيولی ؤ، په ډاګه کړه چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون تياري د تير کال د ټاکنو په پرتله يو لړ مثبت پرمختګونه په ګوته کوي. دغه تياري له دندې څخه د ۶۰۰۰ ټاکنيزو کارکونکو لرې کول چې د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو په درغليو کې يې لاس درلود او د يو شمير ولايتی مسوولينو او ناظمينو بدلون له يوې سيمې څخه نورو سيمو ته ترڅوې د سيمه ييز قدرت او ملاتړو شبکو سره يې اوتن رامنځ ته شي، د يو محل څخه بل محل ته د رايو پاڼو د ليږدولو منع کول ، او د درغلييو د ښه کشف لپاره په رای پاڼو کې د ځانګړې مسلسلې شميرې ليکل، هغه موارد دی چې د ټاکنو د کميسيون لخوا د درغليو د مخنيوی په خاطر، ترلاس لاندې نيول شوی ؤ.

د ملي دموکراتيک په وينا لا هم ګن شمير ستونزې پرتې دی او له مخه يې لا تراوسه هم پر ټاکنيزو ادارو باندې د ټاکنو د برخې اخيستونکو، نوماندانو، د سياسي ګوندونو د مشرانو او فعالانو، ژورنالستانو،او ګن شمير افغان وګړو لخوا خپريدونکي بی باوری شته.

ستر باور دا ښيي چې د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنو د شکايتونو کميسيونونه د سياسي فشارونو په وړاندې ، زيانمن دي او همدارنګه د ډيرو جعلي کارتونو موجوديت د ستونزو يوه برخه ده چې انستيتوت هغو ته اشاره کړې.

د هيواد په زياتو سيمو کې د رای ورکولو بهير په منظمه توګه ترسره شو. له دې سره سره ، ملی دموکراتيک انستيتوت يو لړ ستونزې د هيواد په ځينو برخو کې په ګوته کړې، لکه: د رای پاڼو کمښت، د رنګ ستونزې او د جعلی کارتونو د استفادې هڅه. دا چې دغه ستونزې به د ټاکنو پر بهير څومره ناوړه اغيزه ولری ترڅو نه ده معلومه.

انستيتوت خپله پاملرنه امنيتی وضعيت ته هم اړولې. په وينا کې راغلی چې تاوتريخوالي او پر تاوتريخوالي باندې ګواښول، د ټاکنو د بهير هر اړخ ته يې ښه ورکړه . په ځينې سيمو کې يې د نوماندانو د سيالۍ د تر سره کيدو مخنيوی يې وکړ، د ټاکنو د مامورينو په استخدام کې يې هم خنډ رامنځ ته کړ، د ټاکنيزو مرکزونو د محلاتو په ټاکلو يې هم اغيزه وکړه، له ۱۰۰۰ څخه لا په زياتو مرکزونو کې يې د رای ورکولو مخنيوی يې هم وکړ او دغه راز يې د کورنيو، نړيوالو څارونکو، د نوماندانو استازو ته هم خنډ رامنځ ته کړ چې نوموړيو و نه شو کولای تر څو د ګن شمير ټاکنيزو محلونو څخه ليدنه وکړي

په بيانيه کې يو شمير وړانديزونه د ټاکنيز بهير د ښه والی په موخه وړانديز شوی دی چې عبارت دی له:

- افغان حکومت بايد پر ټاکنو پورې اړوند جرمونه وڅيړي او هغه تاوتريخوالي چې د نوماندانو د ملاتړو لخوا ترسره شوی او همدارنګه هغه موردونه چې له امله يې د رايو ورکولو له کارتونو څخه ناوړه ګټه اخيستل شوې، په کلکه توګه وڅيړي او تر قانونی تعقيب لاندې يې ونيسی.
- ولسي جرګه بايد يو لړ ګامونه د ټاکنو د خپلواک کميسيون او د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون د خپلواکي په اړه په پام کې ونيسي.
- د ټاکنو د شکايتونو کميسيون بايد يوه دايمی اداره وي نه دا چې د پايلو د اعلان څخه وروسته منحله شي.
- د ټاکنو شکايتونو کميسيون بايد په پام کې ولري چې د ولايتونو شکايتونو کميسيونونه ورته اصول ولري او په رونېوالي (شفافيت) سره خپلې دندې تر سره کړي
- يو درست اوسم د رای ورکونکي د نوم ليکنې او يا د مدنی ثبت کتاب بايد چمتو شي.

- د واحدي نه ليږديدونکي رايي سيستم لپاره يو ځای ناستی سيستم وڅيړل شي.
- .دا سي کړنلارې بايد په پام کې نيول شي ترڅو په ټاکنيزو محلونوکی د ښځو د زياتی ونډي اخيستنی لامل شی.
- ښه امنيت د ښځينه نوماندانو لپاره اړ ده.
- ولسي جرگه بايد د ټاکنيز بهير په اړه يوه ښه ارزونه ترسره کړی.

د ملي دموکراتيک انستيتوت نظارتي ماموريت د ۲۵ کلونو په ترڅ کي په ټوله نړي کي د ۲۰۰ څخه د زياتو ټاکنو پر څارني ولاړه ده . دغه راز دغه ماموريت په افغانستان کي هم د ټاکنو په اړه له ښو معلوماتو او تجربې د درلودلو څخه برخمنه ده. انستيتوت خپل کار په افغانستان کي په کال ۲۰۰۲ کي پيل کړ. د سږ کال د ټاکنو لپاره يی ۱،۷۰۰ نوماندانو ته چي ۶۸ سلنه ټول کانديدان تشکيلوي، د ټاکنيزو قوانينو سره د هغوی د پيژندګلوی غونډي ترسره کړي. دغه راز سياسي گوندونو لپاره يی ځيني روزنيز پروگرامونه ترسره کړل. په همدي ډول يو لړ ځانگړی پرواګرامونه يي ښځينه کانديدانو ته چي د هغو له جملي څخه يي ټولټال ۲۴۰ تنو ښځينه نوماندانو په کي برخه واخيسته ( ۶۲ سلو نه ) هم درلودل. په دې توگه د افغانستان دآزادو او عادلانه ټولټاکنو بنياد ته يی هم يو لړ تخنيکي مرستي برابرې کړي . دغه نهاد په افغانستان کي ترټولو لويه د ټاکنو د څارني اداره ده. او همدارنگه د ۳۵،۰۰۰ نوماندانو استازو ته دهيواد په بيلابيلو ولايتونو کي يي هم روزنيز ورکشاپونه په لاره واچول ترڅو وکړای شی له ټاکنو څخه څارنه او په اړه يي ريپوټونه تيار کړي.

د ملي دموکراتيک انستيتوت له ټاکنو څخه څارنيز ماموريت سره مالی مرسته په افغانستان کی د امريکا متحده ايالاتو د پرمختيايی ادارې لخوا ترسره شوه.

.
د ملی دموکراتيک انستيتوت لخوا يو معلوماتی سايت چي په کي د افغانستان د ۲۰۰۴، ۲۰۰۵ او ۲۰۰۹ کال د ټاکنو په اړه يو لړ معلومات او تحليلونه په کي موجود دي: .www.afghanistanelectiondata.org

ملی دموکراتيک انستيتوت يوه غيرحکومتی او بي طرفه سازمان دی چي د نړی په گوټ گوټ کي د د موکرايتکو نهادونو په پياوړتيا او وده کي د خلکو د پراخي برخه اخيستني، په حکومت کي شفافيت او حسابدهي په برخه کي فعاليت کوي. د لاډيرو معلوماتو لپاره مهربانی وکړی زمونږ ويب سايت ته مراجعه وکړی.
*www.ndi.org*.